NHS

UK Health Security Agency

د MenACWY واکسینو

# په تطبیق سره له مننژیت او سیپټیسمیا ناروغیو

څخه ځان وژغورئ



immunisation
the safest way to protect your health

## ولې د واکسینو تطبیق ته اړتیا لرم؟

د لسو او شلو کلونو ترمنځ تنکي ځوانان او بالغین په مېننګوکل ناروغۍ د اخته کېدو د لوړ ګواښ سره مخ دي، نو تاسو باید همدا اوس واکسین وکړئ ترڅو د دغې ناروغۍ پروړاندې مصؤن و اوسئ. دا یو خوندي او خورا اغېزمن واکسین دی چې له 2015م کال راپدېخوا د واکسینو د تطبیق د هغه ورځني پروګرام یوه برخه ګرزېدلې ده چې د لسو تر شلو کلونو پورې ماشومانو لپاره په پام کې نیول شوی دی. همدارنګه د دغه واکسین په تطبیق سره ستاسو په ګاونډ کې موجوده انسانانو د وایروس د انتقال ګواښ هم کمېږي. کېدی شي تاسو په ماشومتوب یا ځوانۍ کې د MenC واکسین کړي وي خو دغه واکسین نه شي کول تاسو د مېننګوکل ناروغۍ د ټولو ډولونو پروړاندې مصؤن وساتي.

د MenACWY واکسن به د MenC ناورغۍ پروړاندې ستاسو د مصؤنیت کچه لوړه کړي او مرسته به وکړي چې د مېننګوکل ناروغۍ د دریو نورو ډولونو  (لکه A، W او W) پروړاندې تاسو مصؤن وساتي. دغه واکسین به تاسو د مېننګوکل (meningococcal) ناروغۍ د هرې نوعې لکه MenB پروړاندې مصؤن و نه ساتي، او له همدې امله اوس هم دا مهمه ده چې د یادې ناروغۍ په اعراضو او علائمو ځان خبر کړئ.

## آیا زه اړیم چې د MenACWY واکسین وکړم؟

نه، خو د ځان د مصؤنیت یا ژغورنې لپاره ترټولو غوره لاره د MenACWY واکسینو تطبیق دی. تاسو او ستاسو والد/پالونکی باید د واکسینو د تطبیق لپاره موافقه یا رضایت ورکړي. معمولا تاسو ته په 9 کلنۍ کې هغه مهال چې عمر مو له 14-13 کلونو پورې وي، په ښوونځي کې د دغه واکسین د تطبیق وړاندیز کېږي. که مو خپل واکسین په منظم ډول نه وي تطبیق کړي نو اندېښنه مه کوئ، ځکه که چېرې لا هم د ښوونځي زده کوونکی/زده کوونکې یاست یا له خپل GP ډاکټر څخه لرې یاست، لا هم تر 25 کلنۍ پورې په شرائطو برابر یاست او کولی شئ په خپل ښوونځي کې د خپل نرس/ نرسې یا د ښوونځي د واکسینو د ټیم لخوا په وړیا ډول د MenACWY واکسین ترلاسه کړئ. موږ 3 ډوله د MenACWY واکسینونه لرو چې عبارت دي له MenQuadfi Nimenrix او MenVeo څخه، تاسو کولی شئ د په دې اړه د ناروغ لارښود په لاندې لینکونو کې وګورئ:

MenQuadfi: **www.medicines.org.uk/emc/product/12818/pil**

Nimenrix: **www.medicines.org.uk/emc/product/4118/pil**

MenVeo: **www.medicines.org.uk/emc/product/2939/pil**

## آیا واکسین درد لري؟

هېڅوک پیچکاري نه خوښوي، خو دا د واکسینو د تطبیق لپاره ډېره چټکه طریقه ده. د پیچکارۍ ستن ډېره کوچنۍ او تېره ده چې یوازې د یوه اغزي په څېر کوچنی درد لري. که چېرې تاسو د پیچکارۍ په اړه اندېښنه لرئ، نو مخکې له دې چې واکسین تزریق کړئ په اړه یې د خپل نرس/نرسې یا ډاکټر/ډاکټرې سره وغږېږئ.

# مېنېنګوکل ناروغي

**مېنېنګوکل ناروغي په ندرت سره رامنځ ته کېږي خو ډېره شديده ده او بيړنۍ درملنې ته اړتيا لري. دغه ناروغي کېدی شي د دې لامل شي معيوب شئ، مثلا د بدن عضوه مو قطع شي، د سامعې حس له لاسه ورکړئ، مغز ته مو زيان ورسي او په بدن مو داغونه يا لکې پاتې شي. د دغې ناروغۍ لامل د مېنېنګوکل په نامه باکترياوې دي چې په څو ګروپونو وېشل کېږي. چې ترټولو عامه هغه يې A، B، C، W او Y ګروپونه دي. په مېنېنګوکل ناروغۍ باندې د اخته کېد ترټولو لوړ ګواښ نويو زېږېدليو ماشومانو، تنکيو ځوانانو، تر شل کاله د ټيټ عمر لرونکو ځوانو ماشومانو ته متوجه دی.**

د مېنېنګوکل باکتريا کېدی شي د منن‌ژيت (د مغز د داخلي غشا پړسوب) او سيپټسيميا (کله چې باکتريا وينې ته داخلېږي او وينه زهري کوي) ناروغيو لامل شي. دغه دواړه ډوله ناروغۍ ډېرې جدي دي او کولی شي انسان له منځ يوسي، په ځانګړې ډول په هغه صورت کې چې تشخيص يې په وخت سره و نه شي.

منن‌ژيت او سيټپيسيميا دواړه کولی شي د شديدې sepsis يا د بدن د عکس العمل لامل شي. sepsis د هر ډول ميکروب پرورړاندې د بدن لخوا قاطع او ګواښوونکي ځواب يا عکس العمل ته ويل کېږي چې کولی شي د بدن انساجو ته د زيان رسولو، د بدن د غړيو معلول کېدو او مړينې لامل شي.



**دا مهمه ده چې د مننژیت او سپتېیسمیا ناروغیو په اعراضو او علائمو ځان پوه کړئ حتی که د یادې ناروغۍ واکسین مو هم کړی وي، ځکه دغه ناروغي ګڼ شمېر نور حالتونه هم لري.**

د دغي ناروغۍ له عامه
خبر



له ډېرې رڼا یا روښنایۍ څخه نفرت

په چټکۍ سره ساه اخیستل

کانګې/نس ناسته

د معدې نیول کېدل

د رنګ الوت او په جلد باندې د
لکو یا خالونو رامنځ ته کېدل

خارښت/شنه داغونه*

د بندونو یا مفصلونو درد

د منتژیت او سپتیسمیا ناروغیو د اعراضو او علائمو په اړه د تصویرونو او ډیدیوګانو په ګډون بشپړ معلومات کولی شئ له دغو لېنکونو څخه ترلاسه کړئ: **www.meningitis.org www.meningitisnow.org**

*د پرانیستل شویې پاڼې یا وېډیو په پاسنۍ برخه کې 'Do the glass test' وګورئ

## اعراض او علائم

**د مېنېنګوکل ناروغۍ کېدی شي په پیل کې د والګي د یوې بدې نوعې په شان وي. خو په دغه ناروغۍ هر اخته شخص معمولا په څو ساعتونو کې د ننه په شدید ډول ناروغ کېږي. په وخت سره درملنه کولی شي ستاسو ژوند وژغوري، نو دا مهمه ده چې د دغې ناروغۍ عمومي او اساسي اعراض او علائم وپېژنئ.**




په دغه ناورغۍ باندې اخته شخص کې ښائي له یادو مواردو څخه یو یا څو هغه په مختلفو ترتیبونو سره څرګند شي او دغه اعراض او علائم ښائي په دواړو ناروغیو مختلط وي. که چېرې تاسو یا ستاسو کوم ملګری د اندېښنې وړ اعراض او علائم او یا هم داسې ناوړه روغتیایي حالت لري چې په چټکۍ سره ناروغ د بدتره کېدو خوا ته ځي، نو مهمه ده چې په وخت سره طبي مشوره ترلاسه کړئ.

## آيا دغه واکسين جانبي عوارض لري؟


د دغو واکسینو له تطبیق وروسته د تزریق په سمه کې پړسوب، سوروالی یا حساسیت یوه عامه موضوع ده. همدارنګه د واکسینو له تطبیق وروسته ښائي تاسو ته د سر درد پیدا شي یا معمولا یو څه د ناراحتۍ احساس وکړئ، خو دغه اعراض او علائم باید په یوه یا دوو ورځو کې له منځه لاړ شي. که چېرې تاسو د کوم جانبي عوارض په اړه اندېښنه لرئ، نو د HAS یا به بریتانیا کې د عامې روغتیا د ملي ادارې د 111 شمېرې سره په اړیکه کې شئ یا هم د معمول په شان د خپل GP ډاکټر سره اړیکه ونیسئ.



## د تیوب یا ګلاس معاینه وکړئ

په سېپټیسمیا ناروغۍ اخته د ځینې کسانو په بدن باندې ښائي خالونه یا داغونه د تبې سرسره پراخ بخارونه را وخېژي. وروسته دغه بخارات کېدی شي په داسې شنو داغونو باندې واوړي د فشار په واسطه له منځه نه شي تلی. تاسو کولی شئ د مکشي ګلاس د فشارولو په واسطه دغه معاینه ترسره کړئ. که چېرې تبه او بخار (پولۍ) لرئ او دغه بخار یا پولۍ د فشار په واسطه نه چوي، نو فورا 999 شمېرې ته د زنګ وهلو له لارې د طبي مرستې په لټه کې شئ او ځان د یوه شخص په واسطه د ترټولو نیژدې روغتونه بیړنۍ څانګې ته ورسوئ. هېڅکله تپې یا بخار ته په تمه مه پاتې کېږئ. بخار کېدی شي ترټولو وروستي علائم وي چې معمولا په روښانه ډول نه ښکاري. که چېرې کوم شخص ناروغ وي او وضعیت مخ په خرابېدو وي، نو فورا د طبي مرستې په لټه کې شئ.

د هغو ناورغانو لپاره چې جلد یې تور وي، د سترګو ننۍ برخه یا په خوله کې تالو وګورئ، ځکه په دغو ځایونو کې داغونه کېدی شي یو څه په واضح ډول ښکاره شي.





که چېرې د واکسینو د تطبیق له امله تاسو ته هر ډول مشکوک اعراض او علائم پیدا کېږي، کولی شئ په دې اړه له دوشنبه تر جمعې د سهار له 9am د ماښام تر 5pm پورې 0800 731 6789 شمېرې ته د زنګ وهلو له لارې او یا هم د Yellow Card اپلکشن د ښکته کولو له لارې د Yellow Card په وېب پاڼه کې راپور ثبت کړئ.

---

**د منږیت یا ملنجیت په اړه لاندې خیریه بنسټونه معلومات، مشاوره او ملاتړ چمتو کوي:**

**Meningitis Research Foundation**
**(د منږیت یا ملنجیت په اړه د څېړنو بنسټ)** ،
له دوشنبه تر جمعې د سهار له 9am د ماښام تر 5pm پورې وړیا مرستندویه شمېره: 080 8800 3344

**Meningitis Now**، وړیا مرستندویه شمېره 388 10 80 0808 – دوشنبه تر جمعې د سهار له 9am د ماښام تر 4pm پورې

---

که پوښتنې لرئ یا په دې اړه نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ، نو په دې اړه د خپل ډاکټر، د ښوونځي د نرس/نرسې یا د خپل ډاکټر د جراحۍ په څانګه کې د اړونده نرس/نرسې سره خبره وکړئ.

دغه لارښود د بریتانیا د روغتیایي امنیت د ادارې لخوا چمتو شوی دی.

© Crown copyright 2024

1P 100K AUG 2023 (APS). Product code: YPMACWY1PAS Pashto.
UK Health Security Agency gateway number: 2024071.
دغه لارښود لاندې شمېرې ته د **www.healthpublications.gov.uk**لېنک له لارې د لاسرسي یا ډونلوډ وړ دی: 0300 123 1002 (دغه شمېره له دوشنبه تر جمعې د سهار له 8am د ماښام تر 6pm پورې د لاسرسِ وړ ده). د دغه لارښود کاپیانې په انګلیسي ژبه د لاسرسي وړ دي.